إِذَا سَمِعْتُمُ الْمُؤَذِّنَ فَقُولُوا مِثْلَ مَا يَقُولُ، ثُمَّ صَلُّوا عَلَيَّ

له عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما څخه روايت دی چې هغه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي دي چې ويیل يې: «إِذَا سَمِعْتُمُ الْمُؤَذِّنَ فَقُولُوا مِثْلَ مَا يَقُولُ، ثُمَّ صَلُّوا عَلَيَّ، فَإِنَّهُ مَنْ صَلَّى عَلَيَّ صَلَاةً صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ بِهَا عَشْرًا، ثُمَّ سَلُوا اللهَ لِيَ الْوَسِيلَةَ، فَإِنَّهَا مَنْزِلَةٌ فِي الْجَنَّةِ، لَا تَنْبَغِي إِلَّا لِعَبْدٍ مِنْ عِبَادِ اللهِ، وَأَرْجُو أَنْ أَكُونَ أَنَا هُوَ، فَمَنْ سَأَلَ لِيَ الْوَسِيلَةَ حَلَّتْ لَهُ الشَّفَاعَةُ». «کله چې مو له اذان کوونکي څخه (د اذان الفاظ) واورېدل نو تاسو هم هغه څه وایئ چې هغه يې وايي، بیا پر ما درود ووایئ ، ځکه څوک چې پر ما درود ووايي، نو الله تعالی به پر هغه لس ځلې درود وايي، بیا ماته له الله جل جلاله څخه د وسیلې سوال وکړئ، چې هغه په جنت کې يو مقام دی، او د الله په بندګانو کې يوازې يو تن ته ورکول کیږي او له هغه پرته بل چاته نه ښايي، زه امېد لرم چې هغه به زه يم، او څوک چې زما لپاره وسیله وغواړي نو شفاعت به يې کیږي».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم لارښوونه کوي چې چا د لمانځه لپاره له اذان کوونکي څخه د اذان الفاظ واورېدل نو ورپسې دي همغه الفاظ تکرار کړي پرته له : حي على الصلاة، او : حي على الفلاح څخه، ځکه له هغوی وروسته به: لا حول ولا قوة الا بالله وايي، بیا به د اذان په پای کې په رسول الله صلی الله علیه وسلم درود ووايي، ځکه چې چا په رسول الله صلی الله علیه وسلم يو ځل درود ووايي، نو الله تعالی به پرې د هغه له امله لس ځلې درودونه ووايي، او د الله تعالی لخوا پر بنده باندې د درود ويیلو معنا: د ملايکو پر وړاندې د بنده ستاینه کول دي. بیا يې امر وکړ چې د هغه صلی الله علیه وسلم لپاره له الله تعالی څخه د وسیلې سوال وشي، چې هغه په جنت کې يو مقام دی او تر ټولو لوړ دی، چې د الله تعالی په ټولو بندګانو کې يوازې د يو بنده سره ښايي او ورته ورکول کیږي، او زه تمه لرم چې هغه زه اوسم، او رسول الله صلی الله علیه وسلم دا خبره د عاجز او تواضع له مخې کړې ده؛ ځکه چې کله هغه مقام يوازې د يو چا لپاره وي، نو هغه يو تن به لده صلی الله علیه وسلم پرته بل څوک نه وي، ځکه چې هغه د مخلوقاتو تر ټولو غوره دی. بیا هغه صلی الله علیه وسلم څرګنده کړه چې چا رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د وسیلې دعا وکړه نو هغه انسان ته د هغه صلی الله علیه وسلم شفاعت حاصل دی.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65087